اتمه ګڼه ـ شپږم کال ـ د دسمبر میاشت ۱۹۷۶م کال

په خارج کې د افغاني محصلانو عمومي اتحادیې خپرونه

نشریهٔ اتحادیه عمومی محصلان افغانی در خارج

## په اروپا کې د افغاني پوهیدونکو ( محصلینو ) سیاسي غورځنګونو ته یوه کتنه

په اروپا کې افغاني پوهیدونکي چه د افغاني ټولنې د روښنفکرانو یوه برخه جوړوي د خپلې ټولنې له سیاسي جریاناتو څخه بې اغیزې نشي پاتې کیدای. څرنګه چه روښنفکران په ګډه توګه د یوه ټولن ایز قشر په حیث په ټولنه کې ټاکلی سیاسي دریځ نلري او هم د خپلې ټولنې په بیلو بیلو طبقو او قشرونو پورې اړه لري نو سیاسي دریځ ئې هم یوازې د دغو دوو ټکو د په نظر کې نیولو په اساس تر مطالعې او څیړنې لاندې نیول کیدای شي.

دې کې شك نشته چه په افغانستان کې سیاسي غورځنګونه نسبتاً پخوانۍ ریښې لري خو د دغو غورځنګونو اغیزه ځکه په بهرنیو هیوادو کې په افغاني پوهیدونکو کښې نه لیدل کیده ولې چه په بهرنیو هیوادو کښې زده کړه د محدود ممتاز قشر په انحصار کښې وه مګر څه وخت چه له یوې خوا په محدوده اندازه نورو افغاني ځوانانو ته هم اروپا د تګ زمینه برابره شوه او له بلې خوا په افغانستان کې هم مترقي سیاسي جریاناتو خپله د فعالیت لمن پراخه او د خلکو په ګټه خپل سازماني مبارزه پیاوړې کړه نو په اروپا کښې هم د افغاني پوهیدونکو ټولنې منځ ته راغلې او د افغاني ستر ولس د ملي او طبقاتي ګټو د پاره ئې په مبارزه پیل وکړ. هرکله که سړی له افغانستان نه بهر د افغاني پوهیدونکو د سیاسي غورځنګونو تاریخ ته نظر واچوي نو څرګنده به شي چه د لمړي ځل لپاره د افغاني پوهیدونکو نهضت د آلمان د اتحادي جمهوریت د فرانکفورت په ښار کې منځ ته راغی او بیا په همدغه ښار کې د افغاني پوهیدونکو له خوا په سازماني توګه د افغان ولس د ملي او طبقاتي ګټو د پاره په مبارزه پیل وکړ.

د لمړي ځل لپاره په ١٩٦٦ ع کال کښې د فرانکفورت په ښار کې د افغاني پوهیدونکو ټولنه تأسیس شوه او بیا د ١٩٦٧ ع کال د اکتوبر د میاشتې په ٢٨ نیټه دغه ټولنه د فرانکفورت د ښار د پوهنتون له خوا هم په رسمیت وپیژندل شوه له دې څخه معلومیږي چه د افغاني پوهیدونکو سازماني جنبش تاریخ ډیر نوی دی ولې چه افغاني ځوانان د یوه بیرته پاتې د غښتې قبیلوي (او فیودالي) ټولنې محصول دي چه د سازماني او سیاسي مبارزې څخه لمړي ساتل شوي او دا هغه شویده چه د حاکمې طبقې د ګټو د تأمین او خوندي کولو لپاره له ملي احساس پردي خدمتګاران منځ ته راولي خو د دې ټولو سره سره بیاهم ځینې کورنۍ او بهرنۍ عوامل د دې باعث شول چه د لمړي ځل لپاره افغاني پوهیدونکي په مبارزه باندې پیل وکړي مګر دا چه ولې دغې مبارزې په لمړي ځل د فرانکفورت له ښاره څخه سرچینه واخسته علتونه ئې په لاندې توګه ښودلی شو.

الف) کورنۍ عوامل:

١- په دغه وخت کښې د فرانکفورت د ښار زیات شمیر افغاني پوهیدونکي له کلیو او باندو

ښه راغلی وو د شاهي مطلقه رژیم د ظلم او ناکردو ناوړه خاطرې چې له ځانه سره راوړې وې.

۲ــ د دغو پوهیدونکو زیاتې برخې د خوشحال‌خان او رحمان‌بابا په لیسو کښې زده کړه کړې وه د ژوند شرائط یې په ښوونځي کې پوښان وه او د اوږد ګډ ژوند په اساس د دوی ترمنځ ملګرتیا پېژندګلوي تماس او اعتماد پیدا شوی او تر ډېرې اندازې د دغې پېژندګلوي په نتیجه کښې قبیلوي شعور ملي شعور ته وده کړې وه.

۳ــ د هغه ملي ستم او ناروا سیاست په نتیجه کې چه د پاکستان استعماري حکومت په افغاني تر اسارت لاندې سیمه یعنې پښتونستان او بلوچستان کې پرمخ بیوه په دوی کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ مفکوره منځ ته راغلې وه.

۴ــ په ۱۹٦٤ کال کې په افغانستان نوی اساسي قانون منځ ته راغلی او په دغه قانون کې د بورژوازي آزادۍ څه ټکي هم موجود او چه له دغو ټکو څخه په افغانستان کې مترقي ډلو او منورینو د افغان ولس په ګټه استفاده وکړه او خپل خلکي مبارزې ته ئې په سازماني او ښکاره توګه قوت ورکړ. چه د دغې مترقي د ملي مبارزه په بهرنیو هیوادو کې هم په افغاني پوهیدونکو باندې اغیزه وکړه.

ب) بهرني عوامل:

۱ــ په یوروپ کې په عمومي ډول سازماني او سیاسي مبارزې ډېر اوږد تاریخ لري چه د پرمختللونکو هیوادو په پوهیدونکو باندې اغیزه کوي تر لدې کبله د زیاتو پرمختللونکو هیوادو د پوهیدونکو سیاسي او سازماني ټولنې موجودې وې. چه د دې ډول عواملو په افغاني پوهیدونکو اغیزه وکړه.

۲ــ خصوصاً د ۱۹٦۰ د شروع څخه په لویدیځې اروپا د محصلینو په ټولنه کښې "د پوهیدونکو د جنبش په نامه یو ستر سیاسي حرکت شروع شو د دې جنبش سرې داسې بیانولای شي: پدې وخت کښې په سرمایه داري نړۍ کښې یو اقتصادي بحران شروع شو او د بحران سره سم د دې ملکونو مترقي او دیموکراتیکو ډلې ترسختې سیاسي شکنجې لاندې راوستل شوې چه د دې عمومي سیاسي فشار څخه پوهیدونکو هم د خپل تعلیمي چاپېر په ترځ کې متأثر شول. اوله بلې خوا د امپریالیزم بین المللي مونوپول جابرانه عمل په دریمې نړۍ په ملکونو باندې او د هغوی په کورنیو چارو کښې د دوی بې ځایه مداخلې د پوهیدونکو په شعور عملي تأثیر وکړ او دا جنبش د افغاني پوهیدونکو په فعالیت کې یو عامل ګڼلی شو.

۳ــ پدې تاریخي مرحله کې د نړۍ استعمار او امپریالیزم د ازادۍ غوښتونکو ملي جنبشونو مبارزې سره مخامخ دي چه د سوسیالیستي نړۍ او نورو مترقي هیوادونو د نړیوالو سولې غوښتونکو او آزادۍ غوښتونکو جنبشونو ملاتړ کاوه چه دی د افغاني پوهیدونکو په حرکت باندې مثبت تأثیر واچولو د پورتنیو عواملو په اساس نه یوازې د فرانکفورت د افغاني محصلینو ټولنه منځ ته راغله بلکه دغې ټولنې ته یې د یوې مترقي فلسفې په لور حرکت ورکړ.

د عمومي اتحادیې د جوړولو هڅې:

د فرانکفورت د افغانی محصلینو د ټولنی د خپلی اساسنامی سره سم د ټیټ پاټو او ګرزنده لیکونو په واسطه (متحد المال لیکونه) افغانانو او نورو خارجیانو ته څرګند کړل چه ټولنی د لته یی څینی هدفونه د مثال په ډول یاد وو :

الف) خاص په محصلینو پوری مربوط مسائل: ۱- ډیر په مرسته د فکرونو د روښانه کول او پخپلو منځو کی سیاسی شعور رزول .

۲- د خارجی فشار په مقابل کی د ټولنی د غړو حقوق تر خپلی وسی پوری ساتل .

۳- د افغانستان د پوهنتونو او په خارج کښی د افغانی محصلینو سره تر وسی پوری د متقابلی مرستی او امکاناتو لټول .

ب) ملی مسائیل :

۱- د افغانستان د کلتور او تاریخ تحلیل او د افغانی کلتور او ولس د المان او یاندنی محصلینو ته پیژندل

۲- د افغانستان د ټولن ایزی او اقتصادی وضعی تحلیل .

۳. د تاریخی واقعیت له مخی د پښتونستان د خلکو د خود ارادیت د حق لپاره ملی ضد استعماری او ضد امپریالیستی مسئلی په حیث څرګنول د ټولنی اساسی وظیفه ده .

(د فرانکفورت پوهنتون کی د افغانی پوهیدونکی د اساسنامی له لومړی مخ څخه)

د فرانکفورت د پوهنتون د افغانی پوهیدونکی ټولنی د خپلی اساسنامی د هدفونو سره سم ددی څرګنه وکړه چه د افغانستان د خاوری هغه برخه چه په وچ زور او ناروا سره د انګلیسی استعمار له خوا د افغانستان له بدن نه شکول شوی او اوس د بلوچستان او پښتونستان په نامه یادیږی خلکوته وروپیژنی او هم ئی د پاکستان د استعماری حکومت له هغو ناکردواو ظلمونو څخه چه په پښتنو او بلوچو باندی کوی پرده اوچته کړه. د فرانکفورت د پوهنتون د افغانی پوهیدونکو ټولنی سربیره پردی د افغانستان د مطلقه شاهی رژیم خیانتونه او د هغوی تش په نامه د یموکراسی هم رسوا کړه او د خپلو امکاناتو سره سم ئی هڅه وکړه چه د خپلی ملی او خلکی مبارزی لمن پراخه کړی او په نورو ښارونو او هیوادونو کی د زیات شمیر افغانی پوهیدونکو د سیاسی شعور د لوړولو او د ملی او طبقاتی مبارزی د پرمخ بیولو د پاره هم زمینه برابره کړی .

د فرانکفورت د ښار د افغانی پوهیدونکو ټولنی د خپل دغه مقصد د پاره زیات شمیر عام مجلسونه میلمستیاګانی غونډی کنفرانسونه او سیمینارونه جوړ کړل چه په هر ځل په سلهاؤ کسانو ګډون کاوه په هغه یوه عامه غونډه کی چه د ۱۹۷۰ ع کال د اپریل په میاشت کی د فرانکفورت د افغانی محصلینو د ټولنی له خوا جوړه شوی وه د اروپا له یو شمیر نورو هیوادو او د المان د اتحادی جمهوریت له بیلوبیلو ښارونو څخه ورته زیات افغانی پوهیدونکی راغلی وو او هم

**پکښې په لويديز المان د پښتونو هيواد و تولنو او د المان مترقي د لو نمايندګانو او زيات شمير طلابو لسرونکو ګډون کړی وو.**

د دغی غونډی په هکله چه په بن کی د افغانستان د کلتوری خانګی او څو تنو نمايندګانو هم پکښی ګډون کړی وو د فرانکفورت د يوی ستری او مشهوری ورځپاڼی Frankfurter Rundschau په خپله ۱۹۷۰ کال د اپريل د مياشتی په ۱۲ ګڼه کی يوه اوږده مقاله ليکلی وه او دا يی خرګنده کړی وه چه له افغانستان نه بهر د لمړی محل لپاره د فرانکفورت د ښار افغانی پوهيدونکی دا جرأت وکړ چه د افغانستان د شاهی رژيم د ظلم او ناروا وڅخه پرده پورته کړه خپله کرکه او مبارزه اعلام کړه.

د دی لپاره چه د لوستونکو لپاره هغه انګاره چه د افغانی تولنی د دغی غونډی په نتيجه کی مخته راغلی ښه خرګنده شی د همدغی مقالی يوه برخه ترجمه او دلته يی ليکو:

"د فرانکفورتر روند شاو ورځپاڼی د خپلی مقالی په يوه برخه داسی ليکی

"پدې ماښامی کی د افغانستان په فيودالی تولنه او د ښوونځيو او پوهنتونونو رڼا واچول شوه د هغو وينا او بحثونو په ترځ کی چه په غونډه کی وشول دا ښکاره شوه چه د افغانستان رژيم نه يوازی د پوهی په ضد دی بلکه د اولس پرضد د ير د ښمنانه ماهيت هم لری.

په بن کی د افغانستان وزير مستشار او کلتوری رئيس چه پخوا د کابل د پوهنتون رئيس هم وو او دغه ماښامی ته د کلتوری رئيس د نورو غړيو سره يوځای راغلی وو او د انتقاد وړ وګرځيد د وی د خپلی بی کفايتی له امله پدی نه وُ خبر چه د افغانستان پوهيدونکی د قانون په چوکاټ کی د سياسی بحثونو آزادی لری او کنه؟......"

څه موده پخوا د فرانکفورت افغانی پوهيدونکو تولنی له خوا دا ليک تولو افغانانو ته واستول شو:

**د فرانکفورت ښار**

**دوستانو!**

**اوسنی ملی او بين المللی جريانات د بشريت د سرنوشت د ټاکلو حساسه مرحله ده.**

تاسو ته بهتره معلومه ده چه د دی جرياناتو د واړه خواوی (ملی او بين المللی) زموږ ګران هيواد په سرنوشت مستقيم تاثير لری. طبعاً د نړی هيڅ هيواد د دې حرکتونو او سياسی جنبشونو څخه بی اغيزی نه پاتی کيږی.

تاسو ته معلومه ده چه د وخت او شرائطو مطابق د دې تحولاتو په منځ کښی د نړی د نورو هيوادو روشنفکره ځلميان او محصلين يو مهم تاريخی رول لری او هم ئی درلود.
مګر کوم چه د نړی د بيلو بيلو هيوادو ځلميانو د اجتماع د تکامل قوانين او د بشريت د لوی تولنی پرمختلونه د دقيقی مطالعی په اساس درک کړي دی. په خصوصی ډول ئی په ملی او په عمومی توګه ئی په بين المللی سياسی واقعاتو کښی خپل متشکل او د لاهر د رهبر خرګند کړی دی او په اجتماع کښی د خپلی جهان بينی او سياسی ايديال د عملی کولو لپاره په

متشکله مبارزه اخته دی.

په ډیر تاسف یادونه کوو چه د ګران افغانستان منور ځوانان او محصلین تراوسه پوری د خاصو شرائطو له مخی د نړی د نورو هیوادونو د ځوانانو پشان د تاریخ په اوږدو کی د یو تشکیلاتو څخه بی برخی پاتی دی.

انفرادی او غیر سیاسی ژوند اتحاد متقابلی همکاری څخه لو منځ ته کیدو کښی د سیاسی شعور د روزلو پدی رول د تولنی د تکامل او د تحول په قوانینو کښی د ورود او بیلا څرګنده د سیاسی تشکیلاتو سیاسی مبارزی او د متقابل اعتماد په لار کښی لوی خنډونه پیدا کړی دی.

پدی شک نشته چه د دی خنډونو له منځه وړل اسان کار ندی. اما په ضد یی مبارزه یو تاریخی ضرورت دی چه باید حتماً وشی.

که چیری وضع په موجوده حالت پاته شی طبعی ده څخه لو منفی تاثیراتو ته به دوام ورکړی ځمونږ د ادراک له مخی د دی تاثیراتو له منځه وړل د اتحاد — د سیاسی شعور د روزلو متقابلی همکاری او متقابل احترام ته د امکاناتو پیدا کول د المان د اتحادی جمهوریت په بیلو بیلو پوهنتونو کی د اتحادیو او بیلا څرګنده د ټولو محصلینو په ګډون د کنفدراسیون تشکیل ته جدی ضرورت لرو. نو ځکه په ډیر د راناوی سره په غربی المان کښی ټولو افغانی محصلینو ته د دی ضرورت یادونه کوو. او ضمنا څرګندوو چه په فرانکفورت کښی د افغانی محصلینو د اتحادیی د المان غرب په پوهنتونو کښی ټول افغانی محصلینو (او د اتحادیو نمایندګانو) ته پدی تاریخی ضرور باندی د بحث لپاره د زړه له کومی فرانکفورت ته د تشریف راوړلو دعوت ورکوی ځکه چه فرانکفورت د غربی المان په ښارو کښی مرکزی موقعیت لری. زموږ په نظر د ملاقات مناسبه نیټه مسیحی اختر دی د دی لپاره ټولو وطنوالو ته به یوه ورځ د کتنی امکانات پیدا شی نو مونږ د ۱۹۶۶ کال د دسمبر ۲۳ نیټه د ملاقات لمړی ورځ پیشنهاد کووکه محترم دوستان موږ ته د راتګ او نه راتګ څخه د دسمبر تر لسمه پوری خبر راکړی تر څو چه موږ وکولای شو چه ستاسو لپاره په ارزانه بیه په هایمونو کی د کوټو او د جلسی نورو ضروریاتو په لټه کښی شو.

په فرانکفورت کی د افغانی محصلینو اتحادیه

سربیره پردی دی تولنی په خارج کښی ټولو افغانی پوهیدونکو ته څوځو ځله بلنی ورکړی دی او د ۱۹۶۹ کال د سپتمبر په میاشت کښی د دغو بلن لیکونو په نتیجه کښی د المان د اتحادی جمهوریت د مونستر، کرپفلد او برلین پوښمیر افغانان د فرانکفورت ښار ته راغلل او عمومی اتحادیی د جوړولو په هکله لومړنی جرګه وشوه او په دغه جرګه کی ورسته له ډیر بحث او څیړو څخه د عمومی اتحادیی د منشور لومړنی مسوده جوړه شوه څو څرنګه چه د عمومی اتحادی د تاسیس کولو د پاره لږ تر لږه دوه تشکیل شوی اتحادیی ضروری وی نو جرګی پریکړه وکړه چه باید ډیر ژر په نورو ښارونو کښی د افغانی پوهیدونکی ټولنی جوړی شی

اود عمومي منشور مسوده د پیشنهاد په توګه نورو افغاني پوهیدونکو ته واستوله شي.
دلته دا خبره د یادولو وړ ده چه په ۱۹۶۹ کښي په هامبورګ کښي د افغاني محصلانو په نامه یوه ډله منځ ته راغلې وه خو د فرانکفورت د ټولنې له پرله‌پسې هڅو او غوښتنو سره یې د عمومي اتحادئي په جرګه کې برخه وانه‌خسته. د دغه پلان‌لیک په اساس داځل هم له څو ښارونو څخه ځینې افغاني پوهیدونکي راغلل خو څرنګه چه تر دغه وخته پورې په نورو ښارونو کښي افغاني پوهیدونکي متشکل شوي نه وو او د پوهیدونکو ټولنې نه وې جوړې شوې نو جرګې داځل هم پریکړه وکړه چه په نورو ښارونو کښي دې د افغاني محصلینو د متشکل کیدو او د ټولنو د جوړولو د پاره دې تبلیغات او فعالیتونه زیات شي دلته باید دا خبره هیره نشي چه د فرانکفورت د افغاني پوهیدونکو د پلان‌لیک او بیابیا غوښتنې سره بیاهم هغې یوې ډلې چه په هامبورګ کښي منځ ته راغلې او په ځان یې د افغاني محصلینو اتحادیې نوم ایښی وُ په جرګې کښي ګډون ونکړ.
په ۱۹۷۱ کال کښي په لندن او د المان د اتحادي جمهوریت د مونستر په ښار کښي د همدغو فعالیتونو په اثر د افغاني پوهیدونکو ټولنې جوړې شوې او بیا د همدغه کال په ۳۱ نیټه د دسمبر څخه ورسته د ۱۹۷۲ کال د جنورۍ د میاشتې تر څلورمې نیټې پورې د لندن مونستر او فرانکفورت د افغاني پوهیدونکو د ټولنو نماینده ګانو په فرانکفورت کښي د خپلې یوې جرګې په ترڅ کښي د عمومي اتحادیې د منشور مسوده بشپړه او تصویب کړه او ګډه اعلامیه یې د منشور سره سمه ټولو افغاني پوهیدونکو ته اعلام کړه.
په دغه وخت کښي د عمومي اتحادیې د مشرتوب چارې د لندن — مونستر او فرانکفورت ټولنو په غاړه واخستې او عمومي اتحادیې مرکز د یوه کال لپاره د مونستر ښار وټاکل شو څه وخت چه عمومي اتحادیه منځ ته راغله او د فعالیت لمن یې د لویدیزې اروپا د ډیرو ښارونو ته اوږده شوه نو په یوه ناڅاپي ډول د هامبورګ د افغاني محصلانو ډلې هم په عمومي اتحادیه کښي د غړیتوب غوښتنه وکړه او بیا یې پیشنهاد وکړ چه فوق‌العاده کانګره دې د هامبورګ په ښار کښي جوړه شي دا پیشنهاد د ټولو غړو اتحادیو له خوا ومنل شو خو څه وخت چه بوازې دوه درې ورځې د کانګرې د جوړیدو وخت ته پاتې وې نو د هامبورګ ډله له خپل پیشنهاد څخه پښیمانه شوه او په هامبورګ کښي د کانګرې دایرول رد کړل. د هامبورګ د اتحادیې د دغه رار عمل سره‌سره بیاهم عمومي اتحادیې وکړل شول چه ژر د کانګرس د دایرولو ځای وټاکي او په دې ترتیب فوق‌العاده کانګرس چه په همې کښي د اخن مونستر هامبورګ او فرانکفورت د افغاني ټولنو نماینده ګانو ګډون کړی وو په مونستر کښي جوړه شوه — د دغې کانګرې په ترڅ کښي د اخن د ښار اتحادیه هم د عمومي اتحادیې د غړي په حیث ومنل شوه.

په دې کانګره کښې د افغانستان په سیاسي او اقتصادي وضع باندې ډیر اوږده بحثونه او خبرې وشوې او د عمومي اتحادیې د ارکانو (سمرغی) او د جمهوریت پېژندنه هم وشوه - چه د کانګرې نه دا تصمیم ونیول شو چه د افغاني پوهیدونکو د سیاسي پوهاوي شعور د لوړولو د پاره باید په ښارونو کښې خو علمي سیمینارونه هم جوړ کړل شي .

د فرانکفورت د افغاني محصلانو ټولنې په دغه کانګره کښې د دوهم علمي سیمینار د دایرېدو وظیفه په غاړه واخیسته او د سیمینار ځای د بن ښار وټاکل شو. د فرانکفورت د افغاني پوهیدونکو نمایندګان د فوق العاده کانګرې د پرېکړې سره سم د سیمینار د دایرولو د پاره بن ته راغلل په دې سیمینار کښې د هامبورګ- اخن- مونستر- برلین- بن او فرانکفورت د افغاني پوهیدونکو د ټولنو ګڼ شمیر غړو ګډون کړی وو ځرنګه* علمي سیمینار موږ په علمي موضوعاتو باندې د بحث او د نظریو د بدلون صلاحیت لري او کومې پرېکړې نشي کولای خو بیا هم د هامبورګ، اخن او برلین ډلې چه د وطن پالونکو افغاني پوهیدونکو له متشکل کیدلو څخه په ویره او بېره کښې وو غوښتل یې چه د افغاني پوهیدونکو د عمومي اتحادیې منشور تر پښو لاندې کړي او یې د سازماني ډسیپلین په نظر کښې نیولو څخه سیمینار په کانګرې بدل کړي او د عمومي اتحادیې مرکز پخپل لاس کښې واخلي خو د افغاني پوهیدونکو هغو ټولنو چه ملي او وطن پرستانه دریځ یې څرګند وو د دې بې شرمانه اقدام پر ضد یې مقاومت وکړ. او بیا څه وخت چه د غوډلو د هر راز بحث او خبرو د پاره لاره وتړله نو د وطن پالونکو اتحادیو غړي د احتجاج 'پروتست' په عنوان له جرګې څخه ووتل او په دې ترتیب د ماجرا- غوښتونکو ډلو هغه هدف چه د عمومي اتحادیې مرکز لاس ته راوړي او د خپلو مقصدونو د پاره ئې استعمال کړي لاس ته ونه رسید و وروسته له دې د غوډلو خپل تاکتیک واړاوه او د هوه لیک په ترڅ کښې په خپل غیر اصولي عمل باندې اعتراف وکړ او بخښنه یې وغوښتله.

د ۱۶۷۲ کال په پای کښې هغه وخت چه د عمومي اتحادیې د وهمه کالنۍ عادي کانګره د فرانکفورت په ښار کښې جوړه شوه نو د هامبورګ، اخن او برلین ډلو له خپل هغه بې شرمانه عمل څخه چه په بن کښې یې د علمي سیمینار په ترڅ کښې کړی وو بخښنه وغوښتله او خپل کار یې پخپله وغانده د دوهمې کانګرې په ترڅ کښې د دې ښار د یو کال د پاره د عمومي اتحادیې د مرکز په حیث وټاکل شو. په ۱۹۷۳ کال کښې دوه سیمینارونه جوړ شول چه یو یې په بن او بل یې په اخن کښې وو. د دې له سیمینارنه وروسته ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتې په ۱۷ نیټه په افغانستان کښې پادشاهي رژیم نسکور او جمهوریت اعلام شو کله چه د افغانستان نوی جمهوري نظام ځپله کړنلاره څرګنده کړه نو د فرانکفورت د افغاني پوهیدونکو ټولنې او همدغراز د هوشمیر نورو افغاني پوهیدونکو ټولنو په افغانستان کښې د جمهوریت راتګ

یو مثبت گام وباله او د هغه پروگرام د عملی کولو سره یی ح ' ملاتړ څرګند کړچه د(خطاب همرد م)تر عنوان لاندی دافغانستان خلکوته اعلان شوی وو په مدغه کال په اخن کښی د ملی آزادی بخښونکو غورزنګونو او د افغانستان د جمهوریت په هکله یو علمی سیمینار جوړشو — په دغه سیمینار کښی په تیره بیا د افغانستان د جمهوریت په باره کښی د نظریو نه پخلاکید نکی اختلافات منځ ته راغلل — داخن، برلین او هامبورګ د لوبیا خپله ضد ملی بنه وښود له او د جمهوریت راتګ یی یو ارتجاعی عمل او په خپله اصطلاح د یوه یړ د ی قدرت د سیسه وګڼله د دغه ستر اختلاف سره سره بیاهم د ۱۹۷۳ کال په پای او د ۱۹۷٤ کال په لمړیو ورځو کښی د عمومی اتحادیی د ریمه عادی کالنی کانګره د مونستر په ښار کښی جوړه شوه په دغه کانګره کښی چه د ویانا، فرانکفورت، ګیسن، کولن، مونستر، بن، برلین او هامبورګ د تولنو نماینده ګانو ګډ ون کړی وو د مونستر ښار د د وهم ځل د پاره د عمومی اتحادیی مرکز وټاکل شو یړ د ی کانګره کښی بیاهم په افغانستان کښی د جمهوریت راتګ باندی بحثونه وشول او د عمومی اتحادیی داکثریت له خوا دافغانستان جمهوریت یوه مثبت ګام په حیث تائید شو او یو فیصله لیك د جمهوریت په هکله د عمومی اتحادیی د د ریځ په تصویب ورسید (د عمومی اتحادیی د ریځونه د سپړغی په شپږمه، اوه او اتمه ګڼه کی د فیصله لیك تر عنوان لاندی نشر شوی د ی .) خود هامبورګ، اخن، برلین او ګیسن (یوائی یونماینده ) چه ئولید ل نشی کولای چه خپل ضد ملی د ریځ په عمومی اتحادیی باندی ومنی نوله کانګری څخه ووتل . په ۱۹۷٤ کال کښی په ګیسن کښی یو علمی سیمینار دافغانستان د روزنی د سیستم په هکله جوړ شو په دغه سیمینار کښی بیاهم هغو د لو چه د مونستر له کانګری څخه وتلی و' دا هڅه وکړه چه د جمهوریت په هکله د عمومی اتحادیی د فیصله لیك په ضد اقدام وکړی مګر د هوښیر افغانی پوهید ونکو د تولنو د نماینده ګانو د علمی تحلیل په اساس د هغوی بی بنیاده ادعاګانی رد کړی په دی سیمینار کښی د هغو کسانو ضد ملی څیره نورهم پسی څرګند ه شوه چه په افغانستان کښی یی د جمهوریت د راتګ او د جمهوری نظام د کرنلاری او پروګرام پرضد فعالیت کاو'.

په ۱۹۷٤ کال کښی یو بل علمی سیمینار د فرایبورګ په ښار کښی (چه په د ی وخت کښی یوه نوی د له متشکله شوی وه ) دایرشو څرنګه په دغه سیمینار کښی هوښیر وطنپالونکو تولنو د تخنیکی عذرونو له امله ګډ ون نه و'کړی نو ضد ملی عناصورو چه له د یری مودې او د ول ډول تاکتیکونو په ترغ کښی د دغسی ورځی انتظار ایسته موقع مساعد ه وګڼله او بیایی د عمومی اتحادیی د منشور په ضد سیمینار په کانګری بدل کړ او اعلان یی وکړ چه د وی یریکړه کړی ده چه د عمومی اتحادیی مرکز دې داخن ښار وی نود عمومی اتحادیی له مرکز څخه یی

چې په مونستر کښې یې په یوه لیک کښې د عمومي اتحادیې د اسنادو او نورو موادو غوښتنه وکړه خو عمومي اتحادیې د دوی دا بې اساسه او له هرراز سازماني او حتی اخلاقي قوانینو څخه پردې غوښتنه یې ونه منله او مواد یې ورنکړل. د اخن ډلې چې د عمومي اتحادیې د منشور په خلاف یې خپل ځان د عمومي اتحادیې مرکز باله د منشور یوه نوې مسوده جوړه کړه او نورو اتحادیو ته یې بلنه ورکړه چې د یوه فوق العاده کانګرس د پاره برلین ته راشي خو ځرنګه چې زیات شمېر اتحادیو د اخن د اتحادیې له دغه غیر اصولي او په خپل کار سره چې ځان یې د عمومي اتحادیې مرکز اعلان کړی و موافقه نه درلوده نو د فوق العاده کانګرس د بلنې پرضد یو زیات شمېر اتحادیو احتجاجونه وکړل او دا کار یې بیا هم د هغوی له هغو ناکامو کوښښونو څخه وګاڼه چې د خپلو ضد ملي مرامونو د پاره په خارج کښې د پوهیدونکو د جنبش د رهبرۍ د لاسته راوړلو د پاره یې کوي.

د اخن د ډلې د غوښتنې اساس یوازې د هامبورګ برلین او فرایبورګ ډلو په برلین کښې تش په نامه کانګرس جوړ کړ. خو ځرنګه چې دوی دا ځل هم خپل مقصد ته ونه رسېدل او ډلګۍ بیا هم په خپلو منځونو کښې ډلګۍ پاتې شوې نو اعلان شوي کانګرس ته یې د جرګې نوم ورکړ او په ډېره بې شرمۍ بیا هم هغه کانګرس ته چې د عمومي اتحادیې د مرکز مونستر له خوا د ۱۹۷۵ کال په لومړي سر کښې د فرانکفورت په ښار کښې جوړ شوی و راغلل.

دوی دا ځل بیا هم د دې هڅه وکړه چې د خپل مقصد د لاس ته راوړلو د پاره له یو بېل غیراصولي تاکتیک څخه دا هم د عمومي اتحادیې د منشور د څرګندې مادې په ضد و استفاده وکړي او هغه داسې چې غوښتل یې ټولو هغو کسانو ته چې په کانګره کښې حاضر و د رایو ورکولو حق ورکړي حال دا چې د عمومي اتحادیې په منشور کښې په ښکاره توګه دا خبره یاده شوې ده چې د هرې غړې اتحادیې دوه تنه نمایندګان د رایو ورکولو حق لري نورو ګډونکونکي کولای شي چې یوازې خپلې نظریې ووایي او څرګندې کړي او پیشنهاد ونه وکړي خو د رایو ورکولو حق نلري. دوی د خپل دغه تاکتیک د عملي کولو د پاره له هرې خوا څخه ټول کسان چې د افغانستان د جمهوري نظام څخه د ځان د ګټو پرضد ګڼه راټول کړي و او کانګرې ته یې راوستي و. خو څه وخت چې د خبرو په ترڅ کښې د منشور د څرګندې مادې یادونه وشوه نو د اخن د اتحادیې یو تن نماینده دا منشور چې د هغه اساس عمومي اتحادیه جوړه شوې او هم د هغه منشور په اساس ټول سره راغونډ شوي و یو ارتجاعي منشور وباله او د منشور په اساس د هرراز پرېکړې د منځ ته راتلو څخه یې ونیوله له همدې کبله د دوو ورځو بحث او خبرو سره سره بیا هم کانګرس د منشور سره سمه رسمي بڼه غوره نکړای شوه او ګډونکونکو اتحادیو پدې باندې موافقه ښکاره کړه چې په راتلونکي وخت کښې دې یو فوق العاده—

کانگرس جوړ شي او د دغه کانگرس تر جوړېدو پورې دې بیاهم دعمومي اتحادیې چارې د
مونستر اتحادیه پرمخ بوځي . د دغه پیشنهاد په اساس مونستر اتحادیې مرکز له خوا د
د مونشن په ښار کښې د ۱۷ — ۱۸ د مې ۱۹۷۵ کال فوق العاده کانگرس جوړ کړ په دغه
کانگرس کښې د فرانکفورت، کولن، بن، مونشن، گیسن او ویانا د پوهیدونکو ټولنو برخه واخسته .
پدغه کانگرس کې پر فیصله لیك تصویب او رخپور کړی شوچه په شپږمه گڼه د سپرغۍ کې نشر شوی دی
برسیره پر دې دعمومي اتحادیې د منشور شپږمه ماده تصویب شوه چه د سپرغۍ په اومه گڼه
کې خپاره شوې وه . او د پاتې روان کال ۱۹۷۵ لپاره ویانا دعمومي اتحادیې مرکز وټاکل
شو. په ۱۹۷۵ یو علمي سیمینار د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ په هکله په مونشن کې
دایر شو. لکه څرنگه چه مو وویل د فرانکفورت په کانگرس کښې چه ټولو پدې موافقه ښکاره کړه
چه د فوق العاده کانگرس ځای او نیټه دې دعمومي اتحادیې مرکز یعنې مونستر له خوا
وټاکل شي. خو هغه وخت چه د مونستر له خوا مونشین ته د عمومي اتحادیې کانگرس را
وبلل شو په همدغه وخت کښې د اخن دلې د یوه فوق العاده کانگرس اعلان د هانور په
ښار کښې وکړ— دغو دلو پخپلو هلو ځلو په نتیجه کښې په هانور کښې هم له یو رو مشتبهو
عناصرو څخه یوه نوې دله منځ ته راوستې- وه خو دغه دله دعمومي اتحادیې غړې نه وه نو
هماغه وه چه داخن، برلین، هامبورگ دلو د هانور له دلې سره یو ځای په هانور کښې جرگه
جوړه کړه او داخل یې بیاهم د ټولو دیموکراتیکي اصولو پرضد خپلې دغې غونډې ته د —
کانگرس نوم ورکړ او د عمومي اتحادیې مرکز یې پخپل سر د هانور ښار وټاکو او بیایې هم د
عمومي اتحادیې مرکز مونستر څخه د اسنادو غوښتنه وکړه خو د عمومي اتحادیې مرکز چه
تردې وخته پورې مونستر کښې وه د دوی داغوښتنه ونه منله او ټولو غړو اتحادیو ته یې د دغو
دلو غیراصولي او بیشرمانه اقدام په هکله معلومات ورکړ او پدې توگه په خارج کښې دافغاني
پوهیدونکو جنبش له هغو دلو او عناصرو څخه چه تر بېلو بېلو نومونو لاندې ئې دافغان
ولس په ضد او مترقي پروگرامونو د عملي کولو په لاره کښې یې خنډ ونه پیدا کول پاك شو .
دې کښې شك نشته چه دغې دلې اوس هم خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوی او د ماویزم —
ملي ستم او داسې نورو ضدمترقي جامو لاندې دافغان ولس د ټوټه کېدو او افغانستان د ملي —
وحدت د ویجاړولو او په منطقه کښې د پردیو قومونو د خوشحالولو د پاره خپلو کوششونو
ته دوام ورکوی .

۱۹۷۵ کال د دسمبر د میاشتې ۲۷ او ۲۸ نیټه په بن کښې د عمومي اتحادیې پنځم عادی
کنگره او علمي سیمینار دایر شو . په علمي سیمینار کښې د افغانستان د اجتماعي وضعې
تحلیل او په دریمه نړۍ کې د پوځي جنبشونو او کودتاوو باندې بحث وشو چه ځینې مضمونونه

او فیصله لیک په اومه ګڼه د سپرغۍ کې خپاره شول. په دې کنګره کښې ټولو وطنپالونکو او مترقي افغاني پوهېدونکو ټولنو او مترقي دیموکراتیک افغانانو ګډون کړی و. چه ګډون — کوونکې ټولنې د اوږ بن ـ فرانکفورت ـ ګیسن ـ فرایبورګ — ویانا — د مونشن ټولنې د تخنیکي مشکلاتو له کبله ګډون نه وه کړی. په دې کنګره کښې فرانکفورت د افغاني پوهېدونکو ټولنه د عمومي اتحادیې د مرکز په حیث وټاکل شوه. د فرانکفورت اتحادیې د شپږمې عادي کنګرې د فیصلې سره سم خپل فعالیت ته دوام ورکړ او اومه او اتمه ګڼه سپرغۍ یې خپره کړې.

د وه کلنۍ یې په یوروپ کښې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ جنبش او د پاکستان استعماري دولت فاشستي عملونه او ظلمونه نړۍ وال لوته د ټیټ پاڼو په وسیله وښودل. د نورو خارجي مترقي او دیموکراتیکو پوهېدونکو، سوله غوښتونکو او ملي آزادۍ غوښتونکو سازمانونو په کنګرو، علمي سیمینارونو او نورو ګډو ټیټ پاڼو کې فعاله برخه واخسته. چه خصوصاً د آلمان مارکسستي سپارتکوس، د فلسطینیانو ملي ازادۍ غوښتونکو او د ایراني دیموکراتیکو پوهېدونکو او ځوانانو د ټولنې سره د نږدې نه تماس ونیول شو او ګډ کار نور هم دوام لري او اوس په دې هڅه کې دي چه نورو سوله غوښتونکو مترقي دیموکراتیکو بین المللي سازمانونو سره تماس ونیول شي.

په ۱۷ او ۱۸ د جولای ۱۹۷۶ م کال کې پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ په باب یو علمي سیمینار په فرانکفورت کښې دایر شو. په دې علمي سیمینار کښې برسېره پر افغاني پوهېدونکو پښتون — زلمي، پښتون سټوډنټ فیډریشن غړو او پښتنو کارګرو فعاله برخه اخستې وه. چه د دې سیمینار مضمونونه به لوستونکو ته خپاره شي.

ورسته د بنګله دیش د ملي آزادۍ څخه د پښتنو او بلوچو ملي آزادۍ غورځنګ خورا زیاته چټکتیا یې پیدا کړه دا ځکه چه د یوې خوا د اسلام په نوم تش جوړ کړی پاکستان رنګ شو او د بلې خوا د دریو ملیونو د بنګالیانو عام قتل د پاکستان فاشستي پوځي رژیم ربښتنی څېره ټولو خلکو ته په ملي او نړۍ والې سویه رسوا شوه. نو پاکستان ټوله پوځي قوه د بلوچو او پښتنو ملي آزادۍ غورځنګ ته متوجه کړه، د هند سره یې داسې جوړه وکړه لکه څنګه چه هند غوښتل نو په دې وخت کې افغانستان کې کودتا وشوه او جمهوریت راغی نو د جمهوریت په لومړي کال کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ لپاره پروپاګنده زیاته شوه نو د دې پېښو په واسطه د نړۍ نوي امپریالیزم او د پاکستان استعماري حکومت او فاشستي ټرور د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د جنبش په مقابل کښې عام قتلونه شروع — پښتون زلمي — نشنل عوامي ګوند او نور ملي دیموکراتیک او ضد امپریالیزم او ضد استعمار سازمانونه او ګوندونه بند او غیرقانوني اعلان او د لسوزرو څخه زیات سیاسي بندیان او زیات شمېر یې د افغانستان پلارني خاورې او ځینې ئې د سیاسي پناه د اخستلو لپاره یوروپ ته راغلل. څنګه چه هیڅ داسې طاقت نشته

اونه به پیداشی چه د ملی آزادی روحیه او غورځنګ مرکزی نوبه یوروپ کی پښتنوا و بلوچو خپلی مبارزی ته دوام ورکړ. ځکه چه د فرانکفورت په ښار کښی د پښتنو کارګرو شمیر زیات دی نوبه منظموغوند ئی پیل وکړ او د افغانی پوهیدونکو سره ئی تماس ونیولو او د یومنظم سازمانی تولنی د جوړښت لپاره یې په فرانکفورت کی افغانی پوهیدونکو تولنه میلمانه کړه د فرانکفورت دافغانی پوهیدونکو له خوا دا میلمستیا په ډیره زیاته خوښنه ومنله شوه.

نو پدی توګه ورسته د زیاتو بحثو په شپږم د جون ۱۹۷۶ م کال د پښتنو او بلوچو د ملی ـ آزادی تولنی بنسټ کیښودل شو چه د دی ملی ازادی تولنی منځ ته راتګ د افغانی پوهیدونکو یو ستر ارمان په ځای شو او د پښتنو او بلوخو سره په ګډ کار پیل وشو. د دسمبر په ۲۴ او ۲۵ د ۱۹۷۶ م کال د افغانی پوهیدونکو عمومی اتحادیی یو علمی سیمینار او کنګره په فرانکفورت کی دایریږی. ۲۶ د دسمبر ۱۹۷۶ م کال د پښتنو او بلوڅو د ملی آزادی تولنی له خوا د دی تولنی په ویاړ د پښتنو او افغانانو ته میلمستیا شوی ده چه آزاد بحثونه او کلتوری چاری به وښودل شی.

موږ تراوسه پوری د افغانی پوهیدونکو د جنبش د منځ ته راتګ ، ودې او پیلتون ظاهری بڼه وښودله او اوس به په لاندی ځوکرښواکی د دی هڅه وکړو چه د تول جریان نتیجه ګیری خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړو؛

دا یو منل شوی حقیقت دی چه ارتجاعی او ضد ملی قوتونه له پیلو پیلو لارو ددې هڅه کوی چه د ملی او مترقی غورځنګونو د ودې او پرمختګ مخه ونیسی.

دلته په اروپاکی هم هغه وخت چه د افغانی پوهیدونکو لومړی ملی تولنه جوړه شوه نو د ارتجاع نمایندګانو هم خپله د له منځ ته راوستله او هغه وخت چه ئی ولیدل چه دغی ملی تولنی په نورو ښارو کی هم زیات شمیر طرفداران وموندل او د تولو افغانی پاکو ځوانانو له خوا ئی ښه هرکلی وشو. نود ارتجاعی د نمایندګانو د له چه په لومړی سر کی په هامبورګ کی منځ ته راغلی وه. ددې هڅه وکړه چه دغه د ملی ځوانانو تولنه له داخل نه ویجاړه کړی او یا دا چه له مختلفو لارو او دسیسو څخه د ملی او مترقی افغانی ځوانانو ترمنځ د ملیت، ژبی، مذهب او داسی نورو له لارې اختلاف او بدبینی منځ ته راولی او د ملی ځوانانو تولنی یوازې د پښتون ملیت د ګټو ساتندوی وبولی او هم د یرو پاکو وطنپالونکو هغو افغانانو ته چه مورنی ژبی دری، بلوچی، ازبکی ترکمنی او نورې وې تل دا تبلیغ کړی چه د پښتون ملیت په افغانستان کی حاکم او استثمارکوونکی ملیت دی او باید د دوی پر ضد مبارزه وشی.

حال داچه ملی او مترقی افغانی پوهیدونکی تل ددې نمایندګی کړی ده چه د دیموکراتیکو اصولو په اساس باید د افغان اولس مختلفو قومونو او ملیتونو ته لکه ازبک، بلوچ ، تاجک، ترکمن

پښتون ، هزاره او نورو ته اقتصادی ، سیاسی ،کلتوری او ژبنی حقوق ورکړ شی . چه لدې لارې له یوې خوا زموږ افغانی کلتور شتمنی کی زیاتوالی راځی او له بلی خوا د سوءتفاهم او بدګمانی ریښی له منځه ځی . زموږ د ګران وطن افغانستان په وګړو کښی نږدیوالی ، د ورورګلوی حس او د ملی یووالی انقلابی روحیه تقویه مومی .

لومړنی زده کړه باید د هر ملیت په مورنی ژبه وی . همدغه راز په مطبوعاتو او د اسی نورو علمی ځانګوکی باید هم دغه د یموکراتیک پرنسیپ ومنل او عملی شی .

د ملی یووالی ټینګښت لپاره باید ټول افغان اولس په پښتو ملی ژبه باندې چه د افغان ولس د ستر اکثریت ژبه ده پوه شی . لدې کبله ضروری ده چه د لومړنی زده کړې سره پښتو ژبه د یو مضمون په حیث بدرګه وی . تر څو چه لوړ تحصیلات په ملی ژبه پښتو وکړی شی او پدې توګه سره د پیاوړی او مبارز افغان اولس په منځ کی ورورګلوی او ملی یووالی ټینګ او د افغانستان د چټکی پرمختیا او ترقی لپاره لاره هواره شی .

هغه وخت چه په افغانستان کی پادشاهی رنګه شوه او جمهوری رژیم اعلام شو نود دغو ضد ملی ډلو واقعی څیره نوره هم ښه څرګنده شوه او بیائی هیڅ رد او ګودر نه پیژانده او په ډیره بیشرمی سره ئی په افغانستان د پادشاهی رژیم رنګیدل یوه خارجی دسیسه او ارتجاعی عمل وباله . د افغانستان د جمهوری دولت هغه پروګرام چه د ( خطاب به مردم ) تر عنوان لاندې د افغانستان خلکو ته اعلام شوی او ټولو هیوادپالونکو ملی او مترقی قوتونو ئی ملاتړ کړی دی په ډیره بیشرمی رد کړ او له دې څخه چه کوم دلیل ورته ولوی هغه ئی یو ارتجاعی پروګرام وباله . دوی په دغه وخت حتی د ماوستی ایډیالوژی ( چه ارتجاعی ماهیت ئی په ملی او بین‌المللی سویه رسوا شوی دئ ) چه دوی ئی خپل ځانونه وفادارګڼی د پرنسیپونو مراعات هم ونه کړ او د هغو ډلو سره ئی چه د مذهب ترپردې لاندې د امپریالیزم د پاره خدمت کوی لاسونه ورکړل او د افغان اولس په ضدئی خپلی هلی ځلی لا هم پسی زیاتی کړې . د دوی د بیشرمی د ثبوت د پاره دا دلیل کافی دی چه دوی له یوې خوا په ښکاره توګه د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی غوښتونکی جنبش په ضد ویناوې او عمل کوی او دا د پاکستان یو کورنی مسئله ګڼی خو له بلی خوا بیا د یو شمیر پاکو عناصرو د غولولو او د ځینو افغانانو د جلبولو د پاره کله کله پخپلو خبرونو کی هم د پښتنو او بلوچو د مبارزې یادونه کوی . خو په واقعی توګه د دوی دریځ د دې افغانی ملی مسئلی په هکله همغه دریځ دی چه پنجابی استعمار او د ایران فاشستی رژیم ئی لری .

د وی پدې برخه کی د ایران د پادشاه له ډیرو مرتجعینو نمایندګانو سره ګډ کار او د افغان ولس د ملی یووالی د ویجاړولو د پاره فعالیت کوی .

موږ ټولو وطنپالونکو مترقی او پاکو افغاناتو ته د دغو ډلو له دسیسو پښتو او خوږو خبرو څخه

چه شاته ئی ضد ملی هدفونه پراته دی خبر ورکوو او د ټولو افغانی ځوانانو څخه د دوی په مقابل کی د دېرې ویښتیا او بیداری غوښتـــــنه کوو .

## ای ښکلی هیوا ده .

ای ښکلی او د نیکو نه را پاته هیواده . ستا په غیږ کی زمونږ نیکونو ژوند ون کړی او مونږ هم لا د هغو نه پاته چارچېی کی ژوند کوو او پکښی هوسیږو . ستا هره دېره او کاڼی د ننګ او غیرت څخه جوړ شویدی . ته د ننګیالو، توریالو او غیرتمنو خلکو کور او هیواد ئی . ته د ښکلو طبیعی منظرو په ننشو سمبال شوای ئی . ستا په دنګو دنګو غرونو او پراخه راغونو او د شتونو کی په میلونو انسانانو (خلکو) ژوند کړیدی او هغوی پهٔ ی غرونو او راغونو کی د غیرت، ننګ او توری لوست د طبیعت له جګو غرو او سرسخته سینونو او نورو طبیعی مناظرو څخه زده کړی دی .

ستا په ساتنه او پالنه کی زرو او ځوانانو خپل سرونه د قربانی په ډګر کی شندلی دی او د تا هر بوټی ،کاڼی او ډبری ئی پخپل طبیعی حالت سره ساتلی دی . ته د ځلموکور ئی د هغو ځلمو چه د تا بوټی ، ډبری او هغه اوسید ونکی انسانان چه په تاکی ژوند کوی او په زرګونو کراؤ اخته دی زیان ورو نه رسوی، نو داشان ځلمی د تا ځامن دی .

د تا طبیعت تاته ډېره ښه ښکلا درکړی ده او ته ئی په معدنی منرالونو ډک کړی ئی . دا د سرو زرولعلونه ،دا دګلو ډک راغونه چه په هره خوا کی لیدل کیږی ټول تا پوری اړه لری او دا ټول د تا په غیږ کی پراته دی .

تا ته د طبیعت په ویش کې داسی ښکلا او زیبائی درکړل شویده چه زیری ئی د نړی په ډېرو هیوادونو کی نه لیدل کیږی او نه ځانته ساری لری . مګر افسوس او د بدبختی ځای دادی چه د تا د ښکلا او زینت څخه تر اوسه پورې په هغه ډول چه استفاده وشی نه ده شوی .

د تا هر بوغر د طبیعت په جوړو شوو غرونو کی د خپل جوړښت ساری نلری او نه ورته څوك په داشان ارزښت قائیل دی لکه تاته چه دی . ډېر وګری شته چه د تا قدر ورته معلوم ندی او په بده سترګه د رته ګوری . د تا په اولادونو باندې تیری او ظلم کوی . د تا د اولادونو غوښی او مالونه په داړهماری باندی وری او شکوی . په بزګرو، کارګرو او مالدارو باندی رحم نه کوی او د هغو د ژوند سره لوبی کوی . د هغو حق او مالونه په چوراوچپاول باندی وری . دا ډله هم د تا اولاد دی او دوی هم د تا په غیږ کی روزل شوی دی . هغوی ستا د نیکمرغی د پاره ځانونه نه قربانوی او نه د تا د اولاد د پاره د خدمت کولو شعور په مغزونو کی لری . هغوی تا همیشه زوروی او طبیعی شتمنیو ته دی درناوی نه کوی . هغوی بدې هڅه کی دی چه تا دی د اولادو او طبیعی شتمنیو

## د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه

ګرانو لوستونکو ته دا معلومه ده، چه سپرغۍ پخپلو تیرو ګڼو کي هم د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د جنبش په باره کي حیروني کړېدي او زمونږ لپاره دا داسي یو واقعیت دی، چه د افغانستان د خلکو - سرنوشت په ټاکلو کي ستر رول لوبوي ، نو ځکه مونږ بیا لازمه ګڼو چه په دې جنبش باندي بیا هم لوستونکو ته خو ټکي وړاندي او په مهمو پېښو باندي تبصره وکړو.
په دې لړ کي به مونږ هڅه او کوښښ وکړو چه ( د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه ) ګرانو لوستونکو ته ور و پېژنو.

په پښتونستان او بلوچستان کي له ډېري مودې را هیسي د پاکستان د استعماري او ملي ستم په مقابل کي د دې ځای د اوسېدونکو له خوا منظم او ګوریلائي جنګونه روان دي چه هري جګړې د پاکستان حکومتونه او همدارنګه په افغانستان کي ارتجاع سخت وارخطا کړي دي.
دا ځکه چه ارتجاعي ډلې په دې دواړو ملکونو کي، چه د بین‌المللي امپریالیزم سره ټینګ اړیکي لري، د پښتنو او بلوچو د خودارادیت د حق چیغې د دوی لاس لندوي او ګټي ئې په خطر کي اچوي. نو ځکه دوی همیشه په ګډه دا کوښښ کړي دي چه په مختلفو فریبونو او د سیمو سره د دې جنبش مخنیوی وکړي. د دغو پېښو په لړ کي د پاکستاني ارتجاع ځیني ډیر ناوړه او د بشري حقوقو سره په هر لحاظ مخالف عملیات دادي لکه؛ په تیر کال کي د نیشنل عوامي ګوند بندول او د دې ګوند مشران او یو زیات شمیر نور غړي په بندیخانو کي اچول، څو هفتي پخوا ډېر په خلکو باندي د عام قتل جاري کول او د افغانستان او پاکستان د حکومتونو په مینځ کي روغه او پټې فیصلې وې، کوم چه د دې ثبوت مونږ ته راکوي، چه دغه د دواړه ارتجاعي ډلې په حقیقت کي دا هڅه کوي چه پښتانه او بلوچ د خپل حق نه محروم او د تل لپاره غلامان پاتې شي.
خو د پښتنو او بلوچو زړه‌ورو زوی مبارزي تاریخ دا ثرګنده کړېده چه دې خلکو د پاکستاني استعمار او افغاني بیوکراتیو ضد ملي د سیمو ته تل په نره ځواب ورکړېدی او ورځ په ورځ د دوی مبارزه قوت مومي او خپل ځانونه متشکل او منظم کوي. د دوی مبارزه په دې وختونو کي دومره مخکښي تللې ده چه حتیٰ په خارج کي ئې هم خپل تاثیرات خپاره کړل او په یوروپ کي اوسېدونکي پښتانه او بلوچ خپلو مسئولیتونو ته متوجه شول او خپلې مبارزي ېر مخ بېائي.
کله چه د پاکستان حکومت په غیردیموکراتیکه توګه نیشنل عوامي ګوند بند کړ او یو زیات شمیر پښتنو او بلوچو یوروپ ته سیاسي پناه راوړه او د خپلې ملي آزادۍ لپاره ئې ېر مبارزه پیل وکړ. کله چه د افغانستان حکومت له خوا د پاکستان صدراعظم بوتو کابل ته په اووم د جنوری ۱۹۷۶م

کال ملیمه شو. په یوروپ کې پښتنو او بلوچو د دې روڼې او جوړې له کبله د پاکستان استعمار او د افغانستان ارتجاع ته ټینګ ځواب ورکړ چه هغه د دې ورځې په هیڅګا په شپږم د جنورۍ ۱۹۷۶ م کال په یوروپ کې د پښتنو او بلوچو کارګرو د غربي المان د فرانکفورت په ښار کې ((د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنې)) بنسټ اعلان کړ.

د افغاني محصلینو عمومي اتحادیې ته هم په دې تولنه کې ګډون ورکړل شوه، چه د افغاني محصلینو له خوا په ډېر افتخار او خوښۍ سره ومنله شوه.

مونږ په داسې حال کې پښتنو او بلوچو او کارګرو ته د دې ستر ملي اقدام ډېرې زېرې ورکوو او د دوی سره د خپل هر ډول کمک وعده ورکوو. غواړو چه د دوی هغه لیک چه مونږ ته ئې رالیږلی دئ ګرانو لوستونکو لپاره په سپرغۍ کې چاپ کړو.

د استعمار ماڼو کې بیا ژړا شوه — تاله واله کور د افغان جوړېږي
پښتنو تاسې باندې زېرې کوم — خبر ئې څه؟ پښتونستان جوړېږي

(اجمل خټک)

زېرې

د اولسونو د آزادۍ د مبارزې په تاریخ کې ځینې پېښې نه هېرېدونکې او د هرې پلوه د یادونې او اهمیت وړ دي. دغسې د پښتنو او بلوچو د آزادۍ د مبارزې په اوږد تاریخ کې هم داسې د افتخار ډکې او ځلېدونکې پېښې شته، چه زمونږ اولس پرې افتخار او ویاړنه کولی شي.

په ۱۹۷۶ م کال کې د جون د میاشتې شپږمه ورځ په یوروپ کې اوسېدونکې لر او بر ګڼ شمېر پښتانه او بلوچ په دې بریالي شول، چه وروسته له ډېرو جرګو مرکو او خبرو اترو د لومړي ځل د پاره (په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنې) بنسټ چه د المان د اتحادي جمهوریت د فرانکفورت په ښار کې کېښودل شو، یوه مهمه تاریخي پېښه ګڼل کېږي.

په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه که د یوې خوا دا وظیفه لري، چه د سیمینارونو، کنفرانسونو، غونډو او میلمستیاګانو د جوړولو او معلوماتي موادو د خپرولو د لارې د پښتونستان او بلوچستان د خلکو د آزادۍ غوښتنې غږ د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي او د تولو دیموکراتیکو او مترقي هیوادونو، بین المللي تولنې، مترقي دیموکراتیکو تولنو او ګروپو ملاتړ وګټي او د ملي آزادۍ بخښونکې مبارزې لپاره د تیارۍ هڅه هم وکړي.

مونږ د لر او بر تول افغان اولس ته هم (په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د تولنې) د بنسټ ایښودلو زېرې او په دغه تولنه کې د غړیتوب او فعال کار بلنه ورکوو.

د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه

## د لوستونکو لپاره د پام وړ

ګران لوستونکي به پدې خبر وي چه ( سپرغۍ ) په خارج د افغاني محصلانو د عمومي اتحادئي خپروونکی ارګان د ۱۹۷۲ م کال د جولای د میاشتي څخه را پدې خوا پخپلو خپرولو پیل کړی دی .

سپرغۍ په خارج کې د افغاني محصلانو د جنبش او د مهمو بین‌المللی او ملي مسایلو په باب خپرونې کوي . دغه ارګان د ټولو مترقي منورینو، وطنپالونکو او ملي مترقي دیموکراتو افغاني پوهیدونکو د نظریاتو او مبارزې ښکارندوی دی .

د افغاني پوهیدونکو مبارزې په خارج کې د افغان ولس د ضد فیوډالي او ضد امپریالیستي مبارزو یوه برخه جوړوي .

سربیره پردې چه افغاني پوهیدونکي په خارج کې د کپیتالیستي ټولنې تر ناوړه او غیر انساني شرایطو لاندې ژوند کوي بیاهم پدې بریالي شول چه خپلو مبارزو ته علمي او سازماني بڼه ورکړي .

موږ پدې یقین لرو چه د اقتصادي او تخنیکي مشکلاتو له کبله به په ( سپرغۍ ) کې ډیرې نیمګرتیاوې موجودې وي او بل داچه خپرونې د سیاسي شعور په روزنه کې ستره برخه لري نو ددې کبله د ( سپرغۍ ) ټولو لوستونکو څخه هیله کیږي چه له موږ څخه خپلې مادي او معنوي مرستې دریغ نه کړي او موږته خپل انتقادونه او نظریات راولیږي .

( د سپرغۍ د سرپاتي جرګګۍ لخوا )